LIBERAL JOURNAL OF LANGUAGE AND LITERATURE REVIEW
An International Double-Blind Peer-Reviewed Open Access Journal
ISSN (Online): 3006-3175 | ISSN (Print): 3006-3167
Volume 5, Issue 8 October, 2026

پښتو ادب ته د نوښار خوښکي لیکوالانو د ترجمه نګاری ونډه

THE CONTRIBUTION OF NOWSHERA'S KHESHGI WRITERS TO PASHTO TRANSLATION LITERATURE

Fazl ur Rahman[*1], Dr Shukria Qadir[2],

[*1]*MPhil Scholar Pashto Department Abdulwali Khan University Mardan*
[2]*Assistant Professor Pashto Department AbdulWali Khan University Mardan*

DOI: https://doi.org/10.5281/zenodo.23610583

Keywords

Article History
Received: *25 June 2026*
Accepted: *16 September 2026*
Published: *24 October 2026*

Copyright @Author
Corresponding Author: *
Fazl ur Rahman

Abstract

This article examines the contributions of prominent Kheshgi literary figures, including Malik Sher Ali Khan Baba, Akhun Mir Hassan Baba, Farhad Muhammad Ghalib Tareen, Bahram Tariq, Asfandyar Durrani, and Ehtisham Ali Shah Bacha, to the translation of Urdu and English literature into Pashto. It focuses on both poetic and prose translations and highlights their role in enriching Pashto literature and promoting linguistic and cultural exchange-

په ادب کښې د ترجمې مقام په هره حواله مسلم دے ۔ ترجمه یو داسې وسیله ده چې په برکت ئې د یوې ژبې ویونکي د نورو ژبو د ادب د ښلو ښلو اصناف، فکري او فني رجحانات، ملاتات اوامکاناتو نه خانونه خبروي۔ په کلي توګه د پښتو ژبې لمن ډېره فراخه ده ۔ ترکومې حده چې د خوښکیانو خبره ده نو د نورو اړخونو په شمول ئې دا اړخ هم د ډېرې ستائیني وړ دے۔ترجمه په اصل کښې د قومونو په فکري ارتقا کښې د ملا تېر حیثیت لري۔پروفیسر ډاکټر شاه جهان د ترجمې د اهمیت په اړه لیکي : "د یوې ژبې نه د انسان خیالات وافکار او وینا بلې ژبې ته اړولو فن ته دَ ترجمې فن وئیلے شي۔هر څوک چې دغه کار وکوي یعني د یوې ژبې متن یا وینا بله ژبه ته اړوي، ته مترجم(ژباړونکے) یا ترجمان(ژباړن) بللے شي [i]"۔دا حقیقت دے چې د ترجمو د اهمیت نه پهم یو وخت کښې هم انکار نۀ دے شوے۔هم دغه وجه ده چې پښتو تري بې برخې نۀ ده پاتې شوې۔ په پښتو کښې د ترجمه نګاری وړومبې څرګونه د مشتشریقینو ورکړه ده، او د ټولو نه اولنۍ ترجمه هم د مذهبي ترجمه ده چې عیسائي مذهب خورونکو ولیم کېري په کال ۱۷۹۰ء[ii] د کلکتې نه شائع کړې وه۔ خو چې کله مونږ د دینِ محمدي د مذهبي ترجمو خبره کوو نو په دې کښې د ټولو نه اول ترجمه شوې تفسیر په حقله پروفیسر ډاکټر شاه جهان صبب لیکي:

"په پښتو کښې وړومبے ترجمه شوے تفسیر د واعظ کاشفي تفسیر حسیني دے۔ دا ترجمه ملا عبدالله غزنوي کړې ده او د اتلسمي صدۍ عیسوي په اخر کښې چاپ ده۔ دا تفسیر بې نظیر د نامعلوم مترجم ترجمه په ۱۲۸۲هجري/ ۶۶-۱۸۶۵ء[iii] کښې چاپ ده۔ د دغو سره بله د پښتو ترجمه د تفسیر فوق الیسیر ده چې مولانا مراد علي کړې ده په ۱۲۷۲هجري /۱۸۶۶ ء[iv] کښې چاپ ده "۔

هم دغسې د احادیثو، ادبیاتو خصوصا د افسانوي ادب (فکشن) ، ناول او نورو ترجمې هم دې پسې وروستو وخت په وخت شوي دي او دا سلسله روانه ده ۔ د علم د نورو څانګو په شمول ترجمه نګاري هم ځنې څو قسمونه لري –چې غټ قسم دري بللے شي

" (۱) لفظي ترجمه(۲)بامحاوره ترجمه(۳)آزاده ترجمه(۴) منظومي ترجمي

د لفظي ترجمو غټ مثال مونږ سره د قرآن پاک ترجمې دي ۔

د بامحاوره ترجمو لپاره د مترجم لپاره ضروري ده چې دا دواړو ژ بو د روزمرو او محاور نه خبر وي او په دواړو ژبو ښۀ عبور لري نو هله به یو ترجمه شوي فن پاري حق په صحیح توګه ادا شي[v]۔

آزاده ترجمه هغه ترجمه وي چې هغه ترجمه وي چې د یوې ژبې عبارت بلې ژبې ته په داسې انداز واوړي چې د مترجم خپل تخلیقي رنګ پکښې واضح وي او که تاته معلومه نه وي چې ترجمه ده نو د اصل ګمان پرې کوي ۔ د ترجمه نګارۍ دا ډېر خوندور قسم دے[vi]۔

منظومه ترجمه څنګه چې ئې د نوم نه واضحه ده چې نظمیه ترجمه ده دا ترجمه عموماً د نظم نه نظم ته ترجمه وي خو مونږ سره داسې مثالونه هم شته چې د نثر نه منظومه ترجمه شوے وي[vii]۔

LIBERAL JOURNAL OF LANGUAGE AND LITERATURE REVIEW
An International Double-Blind Peer-Reviewed Open Access Journal
ISSN (Online): 3006-3175 | ISSN (Print): 3006-3167
Volume 5, Issue 8 October, 2026

د خوښکو د ترجمې د روايت داولیت پګړۍ د ملک شېر علي خان بابا په سر ده ۔ هغوي پښتو ته یو شمېر منظومي ترجمې کړي دي چې پکښې دوه "جنګ نامې" دي۔ یوه جنګ نامه غازي انور بېګ المعروف به شېر اسلام او بله جنګ نامه غازي مصطفي کمال پاشا المعروفه انقلاب سمرنا۔ دا دواړه جنګ نامې ملک بابا دملک زین الملوک خان په وېنا د اُردو نه پښتو ته منظومي ترجمه کړي دي۔ اروښاد پروفیسر ډاکټر پروېز مهجور خوښکي د بابا د جنګ نامه په حقله لیکي:

"جنګنامه غازي انور بېګ المعروف به شېراسلام د اردو نه پښتو ژبه کښې منظومه ترجمه ده چې پکښې د غازي انور بېګ او د ترکو د بهادرۍ او د آزادۍ د پاره د تحریک قصه ده د دې جنګ نامې په آخرکښې د زین الملوک خان خوښکي څو شعرونه هم لیکلي شوي دي دا کتاب ټول شپږ کم سل مخونه لري۔ دویمه جنګ نامه غازي مصطفي کمال پاشاالمعروف به انقلاب سمرنا ۔ دې جنګ نامهه کښې هم د ترګو د بهادرۍ او د مصطفي کمال پاشا د آزادۍ د تحریک په لړ کښې د هغۀ د کارنامو ذکر دے۔ د دې کتاب په حاشیو باندې تر یوویشتم مخ پورې غزلې، رباعیاني او نعتونه هم لیکلي دي۔ دا کتاب ټول یو سل او څلور مخونه لري[viii]۔

د اردو ژبې تر څنګ ملک بابا د فارسۍ نه هم پښتو ته ترجمې کړي دي۔ د ملک بابا د فارسي شناسۍ او د فارسۍ نه پښتو ته د ترجمې په حواله سید الامین احسن خوښکي د ملک باباد دیوان په مقدمه کښې لیکي :

"د ستر صوفي او فلسفي شاعر مولانا جلال الدین رومي د مثنوي معنوي نه"معجزه د رسول او نوري منظومي ترجمې د دوي د فارسي شعري روایت سره تړون او پرې لساني قابو او ګرفت ښائي۔ د ملک بابا ترجمې دومره سلاست او رواني لري چې د ترجمې ګمان پرې نه کیږي او د علامه ابوبکر بن محمد علي بدالقربشي السندځي د کتاب انیس الواعظین نه دځۀ برخې پښتو منظومه ترجمه هم فارسي ادب ته د دوي مېلان په ګوته کوي[ix]"۔

د ملک بابا دواړه جنګ نامې شائع شوې دي او دا نور ترجمه شوي کلام ئې د مرتب کړے شوے دیوان برخه ده کوم چې د بابا نمسي ډاکټر شجاعت علي مرتب کړے دے او لا د چاپ لارې ځاري۔ زړه چې دَ بابا دیوان به چاپ شي او د لوستونکو د ذوق دخړوب سبب به اوګرځي۔

په ترجمه نګارۍ کښې مونږ سره دویم نوم د چاربیتي او اخلاقي شاعرۍ لوئي نوم میر حسن احسن بابا دے۔ هغوي د مشهوره قیصه "علي بابا او چالیس چور" پښتو ته ترجمه کړې ده۔ دا ترجمه د هغوي په ناچاپ دیوان کښې شامله ده۔

دا باباګانو نه پس د خوښکو ترجمه نګارۍ کښې چې کوم نوم په نظر راځي هغه استاذ فرهاد محمد غالب ترین نامه ده۔ استاذ محترم په یواځې ځان د پښتو ادب ته د ترجمې په مد کښې ډېر څۀ ورکړي دي۔ استاذ محترم چې تر دې دمه پورې کومې ترجمې کړي دي تفصیل ئې څۀ داسې دے:

(۱)۔ مشکوه المصابیح (څلور جلده)
(۲)۔ ریاض الصالحین (دوه جلده)
(۳)۔ ابوداؤد (دوه جلده)
(۴)۔ اسلامي فقه (دري جلده)
(۵)۔ مسلمانه ښځه او خاوند
(۶)۔ برګ آواره (منظومه ترجمه)
(۷)۔ تخت سلیمان (منظومه ترجمه)
(۸)۔ انګریزۍ دوه ژبني کورسونه
(۹)۔ د خوارج تاریخ
(۱۰)۔ ډرامه: شهرزاد
(۱۱)۔ ډرامه : اصحاب کهف
(۱۲)۔ دَ اسلامي شریعت فلسفه (۲۰۲۳) ناچاپ

(۱)۔ مشکوه المصابیح
مشکوه المصابیح د احادیثو ۶ جلده کتاب دے، الامام العلامته محمد بن عبدالله اخطیب التبریزي المتوفي ۷۴۱ لیکلے دے ۔ دا کتاب استا فرهاد محمد غالب ترین د عام اولس لپاره ډېر په ساده او زړۀ راښکونکي انداز کښې ترجمه کړے دے۔

(۲)۔ ریاض الصالحین (دوه جلده)
ریاض الصالحین هم د احادیثوکتاب دے چې ټول ټال دوه جلده لري۔ دَ کتاب امام ابو زکریا محي الدین یحي بن شرف بن مري بن حسن بن حسین النووي الشافعي تالیف کړے دے او استاذ محترم پښتو ته ترجمه کړے دے۔

(۳)۔ ابوداؤد (دوه جلده)
ابوداؤد دوه جلده د احادیثو کتاب دے چې سلیمان بن داود بن الجارود المتوفي ۲۰۳هجري لیکلي دے ۔استاذ فرهاد محمد غالب ترین دشلمي صدۍ په اتیایمه لسیزه کښې ترجمه کړے او چاپ کړے وه۔

(۴)۔ اسلامي فقه (دري جلده)
اسلامي فقه دَ فقې کتاب دے ۔ دا کتاب مولانا مجیب الله ندوي لیکلے دے فرهاد محمد غالب ترین ترجمه کړے دے استاذ محترم دَ دې کتاب دري جلدونه ترجمه کړے وه اګر چې اوس دَ قریبا۹ جلدونه لري۔

LIBERAL JOURNAL OF LANGUAGE AND LITERATURE REVIEW
An International Double-Blind Peer-Reviewed Open Access Journal
ISSN (Online): 3006-3175 | ISSN (Print): 3006-3167
Volume 5, Issue 8 October, 2026

(۵)۔ "مسلمانه ښځه او خاوند" ښځه او خاوند د معاشرتي ژوند نیمګړي دي، ټول ژوند د یو ضابطي لاندې روان دي او تېریږي په دغه متعلقه کتاب کښې هم دا دوي د ژوند او ذمه دارو او کړو وړو باره کښې یو غوره کتاب دے، چې د معاشرتي پوهې لپاره خپل ارزښت لري۔ استاذ فرهاد محمد غالب ترین هم په دغه ژبه پښتو ته ترجمه کړو او د کلاسیک پبلي کیشنز لخوا چاپ او خپور کړي شه۔ اوس وخت په مارکیټ کښې نایاب دے۔

(۶)۔ "برګ آواره" د اردو ژبې د انقلابي شاعر حبیب جالب د ے اُستاذ فرهاد غالب ترین دا کتاب منظوم ترجمه کړے دے۔ د ترجمې انداز ئې ډېر متاثر کن دے ۔

(۷)۔ "تخت سلیمان" د خوښکو کلي سره تعلق لرونکي ښروکرښټ اروښاد بهرام طارق د اردو نثري نظمونه دے، فرهاد محمد غالب ترین صېب دا کتاب پښتو ژبې ته ترجمه کړے دے۔ هر څو که دَ نثري نظمونو په اول وخت کښې ډېر مخالفت کېدو او اوس ئې هم ډېر شاعران ادیبان د زړه نۀ نه تسلیموي خو دا استاذ د ترجمې نه دا خبره هم ثابټرې چې استاذ محترم په پښتو ادب کښې د نوي اصنافو د اضافې په حق دے۔ او مثال ئې د تحت سلیمان دَ ترجمه ده۔

(۸)۔ "انګریزی دوه ژبني کورسونه" پوهان د نورو ژبو زده کول لوے کمال ګڼي خو ولې بله ژبه زده کول ګران کار دے۔ د دې له پاره د هرې ژبې ماهرینو اسان کورسونه جوړ کړي او ترتیب کړي وي چې نوې ژبه زده کونکي تري استفاده وکړي ۔ انګریزی د اقتصاد ژبه ده او بلکي زمونږ معاشره کښې د پوهې سمبل ګڼلے کیږي(اګر چې ده خبره سمه نه ده) استاذ محترم هم د نوو زده کونکیو او شوق لرونکو لپاره د انګریزی دو ژبني کورسونه ترجمه کړي دي او د زېب آرټ پبلشرز لخوا خپور شوي دي۔ اوس وخت مارکیټ کښې نایاب دي۔

(۹)۔ "د خوارج تاریخ" دا یو ډېر اهم کتاب دے، اګر چې دا کتاب دومره لوے نه دے ولې اهمیت ئې ډېر لوے دے۔دا کتاب استاذ محترم د ذوالفقار علي بهټو په دور حکومت کښې د خپل قید وبند په وخت کښې ترجمه کړے دے په کتاب ۱۹۷۴ د ترجمې تاریخ لیک دے۔ دا کتاب لا دَ چاپ په کالو نه دے ښائسته شوے۔

(۱۰)۔ "شهرزاد" د مصري لیکوال توفیق الحکیم المصري ډرامه ده۔ اردو کښې ئې هم ترجمه شوې ده-پښتو د ترجمې سعادت ئې د استاد فرهاد محمد غالب ترین په برخه دے-دا ډرامه د فکر او فن له لورې ډېر زړۀ راښکون لري-هم ددغه وجه ده چې په ډیرو ژبو کښې د ترجمه کېدو سبب ئې زما په خیال د افاقي موضوعاتو په خپله کښې رانغاړي-ښاغلے سید الامین خوښکي په دې اړه کښې لیکي : ډرامي د اهمیت اندازه د دې نه کیږي چې دا ډرامه دا نړۍ په ډېرو ژبو کښې ترجمه شوې ده۔ توفیق الحکیم المصري د دې ډرامې په ذریعه دا ښودل غواړي چې دا هزار داستان د قیصې نه پس بیا ځۀ اوشول۔ دا ډرامه که هر څو د اهمیت وړ ده ۔ خو بعضي کردارونه ئې مصنف کمزوري کړي دي ۔ د دې ډرامې اردو ژبې ته ژباړونکے په خپله دیباچه کښې د ډرامې په حواله لیکي " چې د شهرزاد ټول کردارونه انتهاپسنده ، غېر معتدل او غېر متوازن دي۔ غلامان په مادیت او شهوت پرستی کښې انتها پسند دي او په تېره تېره شهرزاد چې د یو ظالم جابر او قاتل باچا نه د علم وعرفان عالم بردار جوړوي نو بیا هغه خپله څنګه د یو حبشي غلام غېږې ته ورځي[x]"۔

هر څو که دا ډرامه کمزوری هم لري خو د اهمیت نه ئې انکار نه شي کېدے۔ دا ډرامه اکتوبر ۲۰۲۵ء کښې چاپ دَ پښتو ادبي ټولنې لخوا چاپ او خپوره کړي شوه۔

(۱۱)۔ "اصحاب کهف" هم د توفیق الحکیم المصري مشهوره ډرامه ده ۔ دا ډرامه هم لکه د شهرزاد ډرامي نورو ژبو ته ترجمه شوې ده۔ استاذ محترم دا ډرامه په کال ۱۹۷۶-۷۷ء کښې ترجمه کړي ده۔ خو لا اوس هم د چاپ لاري ځاري۔ دا ډرامه ډاکټر ابوالفضل بخت روان هم پښتو ژبې ته ترجمه کړي ده۔ بخت روان ترجمه روانه او ساده ده خو هغوي چې کومې محاوري او روزمرې استعمال کړي دي هغه صحیح نه دي۔ لکه یو مکالمه کښې (خرش کیږي) لیکي او روزمره کښې مونږ (خرشیږي) وایو او لیکو۔ استاذ محترم په خپله ترجمه کښې دا محاورو او روزمرو ډېر خیال ساتلے دے۔

(۱۲)۔ دَ اسلامي شریعت فلسفه:۔ د اسلامي شریعت فلسفه د استاد فرهاد محمد غالب ترین یو ډېر مهم مترجمه اثر دے چې د موضوع له رویه د اسلامي قوانینو تاریخ دے۔

فرهاد محمد غالب ترین صېب د پورته ذکر شوے چاپ او ناچاپ کتابونو نه علاوه هم نورې منثورې او منظومې ترجمې کړي دي ۔ چې په هغې کښې یو اهم مضمون" د شاعرۍ په حقله د آئي اے رچرډ خیالات" چې مرکه رساله کښې چاپ دے او دغسې نور ترجمه شوي اثار ئې هم وخت په وخت په مختلفو مجلو کښې چاپ دي۔

ښاغلي پروفیسر عبدالله قانت صېب نثري ترجمې کړي دي۔ د اکېډیمۍ لخوا چاپ کېدونکے رساله "پښتو[xi]"(اکتوبر ۱۹۹۵)کښې ئې د انېس ناګي مضمون"د شاعرۍ مختلف نظریات" ترجمه چاپ ده۔ د عبدالله قانت صېب ټولې ترجمې او تصانیف تیت پرک دي، چې د راغونډولو پامتداره دي۔ لوئي الله دے وکړي چې د دې سترادیب د لیکونه راغونډ شي او په کتابي بڼه چاپ شي۔

د پښتو ادبي ټولنې خوښکي اولني صدر عبدالجمیل جمبل صېب هم د انګریزی نه پښتو ته ترجمې کړي دي ۔ خوبیا وروستو دوي په پي ټي وي کښې د نیوز ټرانسلیټر په توګه بهرتي شول او د پي ټي مصروفیاتو تري ادبي سرګرمی پاتي کړي۔

نوموړي صحافي ښاغلي خالد خان خوښکي د کالج په وخت کښې په ترجمه نګارۍ کښې خپله ونډه اچولې ده۔ دا انګریزی ژبې ګڼ شمېر نظمونه ئې پښتو ته ترجمه کړي دي چې پکښې د شکسپیئر شهکار نظم او د ورډزورته نظم د خصوصي یادوني وړ دے۔ نوموړي صحافي بیا ورستو د صحافتي مصروفیاتو له وجې ترجمې ته هغه شاني توجه ورنکړي شوه اګر چې نور کار ئې دَ پښتو ادب لپاره وکړو۔ خو دغه شته کړي لږ کار ئې هم د پښتو ژبې سره د مینې پالنې ثبوت دے۔

LIBERAL JOURNAL OF LANGUAGE AND LITERATURE REVIEW
An International Double-Blind Peer-Reviewed Open Access Journal
ISSN (Online): 3006-3175 | ISSN (Print): 3006-3167
Volume 5, Issue 8 October, 2026

د دي ميدان بل شهسوار اروابناد همايون همدرد دے ۔همايون همدرد هر څو كه فطرتاً روماني شاعر دے خو د ترجمي لپاره ئي انتخاب د اردو ژبي ترڅې پسند شاعر فيض احمد فيض دے۔ همايون همدرد صېب د اردو د شاعرۍ دوه كتابه ترجمه كړي اودي سره ئي څۀ نوري ترجمي هم كړي دي چې تفصيل ئي داسي دے:

(۱)۔ نقش فريادي (منظومه ترجمه) چاپ
(۲)۔ گيتانجلي (منظومه ترجمه) ناچاپ
(۳)۔ د ساحر لدهيانوي د شاعرۍ څۀ ترجمه (ناچاپ)
(۴)۔ د احمد فراز د شاعرۍ دَ څۀ حصي ترجمه (ناچاپ)

(۱)۔ نقش فريادي:۔ نقش فريادي د اردو ژبي د ستر شاعر فيض احمد فيض مشهور كتاب دے۔ دا كتاب اروابناد همايون همدرد هم په دي نوم پښتو ته منظوم ترجمه كړے دے۔ همايون دا ترجمه دومره په روانه او زړه پوري انداز كړي ده چې د لوستونكي پرې د تخليقي شاعرۍ مينه ماتېږي۔ همدرد صېب چې د دي كتاب په ترجمه كښي كومي روزمرې محاورې د پښتو خپلې راوړې دي دا دَ كمال دي داكتاب په مئي د مياشتي دوه زره درېم ۲۰۰۳ كښي شائع شوے دے ۔

(۲)۔ گيتانجلي: گيتانجلي د بنگالۍ ژبي مشهور شاعر رابندر نات ټېگور كتاب دے ۔ اروابناد همايون همدرد د گيتانجلي

منظومه ترجمه كړي ده خو لا د چاپ په كالو نه ده ښائسته شوے۔

(۳)۔ اروابناد همايون همدرد مشهور شاعر ساحر لدهيانوي د شاعرۍ نه هم منظومي ترجمي كړي دي چې وخت په وخت په ادبي رسالو كښي چاپ دي او باقاعده څۀ كتابي صورت كښي راجمع شوے نه دي ۔ اگر چې دا وخت مونږ ته ئي نمونې تر لاسه نه شوي خو څنگه چې دَ هغوي د ترجمو كوم مخكښي مونږ سره موجود دے نو غالب گمان دا دے چې دا ترجمي به هم پښتو ادب كښي غوره اضافه وي۔

۴)۔ دَ احمد فراز د شاعرۍ نه ترجمي:۔ همدرد صېب د احمد فراز هم څۀ كلامونه پښتو ته ترجمه كړي دي۔ چې وخت په وخت ادبي رسالو او مجلو كښي چاپ دي۔ سيد الامين احسن په دي اړه ليكي چې : د ترجمي په ميدان كښي د اردو د ستر شاعر فيض احمد فيض د مشهور كتاب "نقشِ فريادي" پښتو منظومه ترجمه د مئ د مياشتي دوه زره دريم كښي شائع شوه۔له اردو شاعرۍ نه د نورې شاعرۍ د ترجمي په مد كښي دوي د ساحر لدهيانوي او احمد فراز ترجمي هم كړي دي او د بنگالۍ ژبي شاعر رابندرانات ټېگور د كتاب "گيتانجلي" پښتو منظومه ترجمه ئي هم كړي ده چې لا شائع نه ده۔[xii] دا هماغه همدرد د خورې ورې ترجمي هم په كتابي شكل كښي د راټولولو او چاپ كولو پامته داري دي۔

ذكر شوي مترجيمينو تر څنگ بل جوت نوم د اديب ، شاعر او محقق سيد الامين احسن دے۔ دي محترم كۀ يوخوا د سپېڅلي په نوم د تېر هېر شاعرانو اديبانو، او د موجوده محقيقينو،منورينو باندې د تذكره نگارۍ د غېر سندي تحقيقي كتاب مرتب كړو نو بل خوا ئي د افسانوي ادب څلنده نوم ځواني مرگ نصير احمد نصېري ناولونو باندې"د نصير احمد احمد نصيري په ناولونو كښي دمهاجرت او پس جنگ هېجان اثرات"د موضوع لاندې تحقيق وكړۀخو له دې سره سره په عربي ،فارسي انگريزۍ او اردو د مكمل عبور لرلو او د دغه ژبوپه ادب شناسي او پوهې له وجې د دغه ژبو نه دېرې علمي ملغلري پښتو كښي ترجمه كړي دي۔چې پكښي عمر خيام نېشاپوري د رباعيانومنظومي ترجمي كړي دي يو مثال ئي د نمونې په توگه وړاندې كوؤ

اين كهنه رباط راكه عالم نام است
وآرامگه ابلق صبح وشام است
بزمي ست كه وامانده صد جمشيد است
قصري كه تكيه گاه صد بهرام است

ترجمه:

دا زړۀ سرائي چې ئي اېښے عالم نام دے
د دمې ځے د روزگار د صبح و شام دے
يو محفل دے چې ئي سترے هر جمشيد دے
يو محل چې تكيه گاه د هر بهرام دے[xiii]

دا دي نه علاوه د حضرت كعب ابن زهيررضي الله عنه قصيده بانت سعاد او د امام بوسيري قصيده برده پښتو كښي منظومي ترجمه كړي دي چې آخري ترجمه ليكنه كوښته مجله كښي چاپ هم ده ۔احسن صېب لگيا دے نوري دېرې ملغلري لا ترجمه كوي او ممكن ده چې راراوان وختونو كښي د عربي ، فارسي ، انگريزۍ ، اردو ترجمي په بېل بېل كتابي شكل كښي چاپ كړي۔
ياده دي وي چې خوښكيانو پښتو نه انگريزۍ ته او انگريزۍ نه پښتو ته ترجمي كړي دي-په دغو نومونو كښي يو نوم د بهرام طارق هم دے ۔ چې "دي مسلم" اخبار" كښي ئي اولسي قيصي د پښتو نه انگريزۍ كښي وخت په وخت چاپ شوي دي-

LIBERAL JOURNAL OF LANGUAGE AND LITERATURE REVIEW
An International Double-Blind Peer-Reviewed Open Access Journal
ISSN (Online): 3006-3175 | ISSN (Print): 3006-3167
Volume 5, Issue 8 October, 2026

دغه شان ډاکټر شجاعت علي خان هم په دي حواله يو ستر نوم دے چې د انګرېزۍ نه پښتو ته ترجمې وخت په وخت کړي او په بېلا بېلو مجلو کښې چاپ شوي-په مجموعي توګه يو کتاب ئې چاپ ته هم تيار دے-

ډاکټر اسفنديار درانې: ډاکټر اسفنديار درانې هم د پښتو نه انګرېزۍ ژبې ته ترجمې کړي، د امېرنواز خان جليا ډرامه درد ئې ټوله ترجمه کړې ده ۔

ډاکټر پير عظمت علي درانې د خپلې خوربې بې عنبرين درانې د بې ايس ليکلې مقاله ''Literary Figure in Kheshgi'' پښتو ته ترجمه کړې ده۔ خو لا تر دې دمه چاپ نه ده۔

په نوي کهول کښې د ترجمه نګارۍ په مېدان کښې يو نوم د قاسم قربان(ايم فل سکالر) دے ۔ دوي د روښان شناسۍ پېژندلے نوم او په روښان شناسۍ د اتهارټي حېثيت لرونکي شخصيت پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور"روښاني تصوف" د پښتو نه اُردو ژبې ته ترجمه کړے دے۔ چې لا تر دې دمه ناچاپ دے۔ دې نه علاوه د حبيب جالب د ځنې نظمونو منظومې پښتو ترجمې ئې هم کړې دي-

دوي نه علاوه زلمے شاعر او تنقيدي شعور لرونکے احتشام باچا هم د انګرېزۍ ژبې د بې ايس په کورس کښې شامله ډرامه "ډاکټر فاسټس(Dr Faustus)" چې کرېسټوفارمارنل ليکلې ده پښتو ته ترجمه کړې ده۔ چې لا ناچاپ ده۔

ده بره ذکر شوی نومونو کښې يو بله نوی نامه د حذيفه امن ده۔ چا چې د اُردو نه پښتو ته منظومې ترجمې کړي دي چې تقريبا د سلو صفحو کتابي شکل کښې لا ناچاپ دي ۔ دې ترجمو کښې د بهادر شاه ظفر، ساحر لدهيانوي، احمد فراز ، پروين شاکر، واصف علي واصف او دغسې نورو د لوئې پايې شاعرانو د کلامونو ترجمې شاملې دي۔

که يو خوا خوښکيانو د نورو ژبو نه پښتو ته ترجمې کړي دي نو بلخوا د پښتو ژبې نه ئې نورو نړۍ والو ژبو ته هم ترجمې کړي دي او پښتو ئې نړيوال ادب سره سيال کړی ده ۔ په مجموعي توګه ترجمه نګارۍ په مېدان کښې د خوښکيانو طبع ازمائي په دې خبره دلالت کوي چې علمي روايت ئې ترننه دوام دار دے –چې په مستقبل کښې به لا نوری ګټې راوړي-----

حواله جات

[i] ۔ جهان، پروفېسر ډاکټر شاه، پښتو نثر کښې د مطبوعه ترجمو تنقيدي مطالعه،چاپ پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي چاپ اول ۲۰۱۹ء صفحه ۱۶۔

[ii] ۔ همدغه، صفحه ۳۴۔

[iii] ۔ همدغه ، صفحه ۴۴

[iv] همدغه ، صفحه ۱۷،۔

[v] ۔ همدغه ، صفحه ۱۸

[vi] ۔ همدغه، صفحه، ۲۰

[vii] ۔ همدغه، صفحه، ۲۱

[viii] ۔ رياض،محمد، د ملک شېر علي خان ژوند او شاعري:يوه تجزياتي مطالعه(ايم فل تحقيقي مقاله) ناچاپ

[ix] ۔ علي، شجاعت،مرتب،ديوان ملک شير علي خان مقدمه، ناچاپ۔

[x] ۔ غالب، فرهاد محمد ،ترين،مترجم، ډرامه شهرزاد (توفيق الحکيم)پښتو ادبي ټولنه خوښکي چاپ ۱۶ اګست ۲۰۲۵ء صفحه ۱۰۔

[xi] ۔ پښتو رساله، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، چاپ کال اکتوبر ۱۹۹۵ء، صفحه۳۴-۴۷

[xii] ۔ احسن، سيد الامين ،خوښګي، سېپځلي،چاپ دېسټ ان بکس پېښور، کال جولائي ۲۰۲۳ء صفحه ۳۵۳،۳۵۴

[xiii] ۔ احسن، سيد الامين ، خوښکي ، سوشل ميډيا، فيس بک پاڼه ۲۳ مارچ ۲۰۲۵۔